# دوام ورکړئ

## تل شاګرد اوسئ او شاګرد جوړ کړئ

### د پيل ټکي

افرين! تاسو بريالي شوئ چي وروستي ګامونو ته ورسېږئ. دا مهمه ده چي يو وخت وټاکئ او هغه څه چي ښښتن ستاسو په ژوند کي سرته رسولي دي، ولمانځئ.

- يو بل ته د پای ته رسېدو به خاطر مبارکي ورکړئ!
- د ځينو مشترکو خاطرو چي په دي سفر په دوران کي مو لرلي اوهېڅکله به هغه هېر نه کړئ، نومونه يي واخلئ.
- په ځانګړي توګه تاسو د يو بل په تړاو د څه دپاره مننديوي يئ؟

### بحث او خبري

دا چي څنګه د سفر په دي دوران کي مو بدلون کړی دی، په نظر کي يي ولرئ.

- څنګه د ښښتن په هکله ستاسو نظر او د هغه سره ستاسو اړيکه بدله شوه؟
- څنګه د عيسى نه په ورځني ژوند او خپلو پرېکړو کي پيروي کوئ؟
- په کومو برخو کي اړتيا لرئ چي د شاګرد په توګه ودي ته دوام ورکړئ؟

### په کلام باندي تعمق او غور

هغه ليکونه چي د رسولانو په نوي عهد کي لرو، دا د ټولو ايماندارنو د هڅوني پر بنسټ ولاړ دي چي د عيسى په برکت او پېژندني کي يي وده کړي ده او تر پايه به د هغه پيروی او خدمت ته دوام ورکړي. د خدای د پېژندني او تجربه کولو دپاره زيات ټکي شته.

دوهم پطرس ۱: ۵-۸ او کولسيان ۱: ۹-۱۲ ولولئ.

- په ځانګړي توګه په کومو برخو کي تاسو احساسو کوئ چي پطرس ورته اشاره کړي ده، بايد وده وکړئ؟
- د دوهم پطرس ۱: ۵ سره سم "بايد ډېر زيار وباسئ" ستاسو په ژوند کي به څنګه وي؟
- کله چي په دوامداره توګه وده ونه کړو، څه پېښېږي؟

بي له شکه ډېره مهمه برخه زمونږ د ودي، دعا کول دي (کولسيان ۱: ۹). د دي ايتونو کلمي وکاروئ، يو او بل ته دعا وکړئ چي تل د ودي په حال کي واوسئ.

### اصلي مفکوره

زمونږ سفر به د عيسى مسيح نه پيروي ته دوام ولري او په پايله کي به ډېره لويه خوشحالي مونږ ته ډالی کړي. مونږ بايد تل له هغه زده کړو او د هغه په شان ژوند وکړو، په خپل پاتي عمر کي له هغه سره همغږي شو. مونږ دا کار په هغه طريقه سر ته رسوو چي په دي سفر کي مو تجربه کړي دي:
دعا او د خدای د کلام لوستل

- د لومړني ګامونو نه مو زده کړل چي څنګه د خدای سره وخت تېر کړو، ورځنی دعاګاني او د هغه د کلام لوستل زمونږ د ودي سبب ګرځي.

د مسيح پر بنسټ يا محور ټولنه

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

- د خدای د کورنۍ په توګه مونږ تل د کلیسا یوه برخه یوو. کلیسا هغه ځای دی چې مونږ په کې وده کوو، قوي کېږو او خپله ونډه سرته رسوو.

په عمل کې یې پیاده کړئ.

- مونږ په عملي کولو د هغه څه چې مو زده کړي دي، زده کړه مو زیاتیږي، نو ځکه په هر ګام کې د عیسی مسیح د تعلیم د عملي کولو په لټه کې وو.

زمونږ مقصد دا دی چې مونږ باید د خدای د کلام عملي کوونکي واوسو، نه یوازې د هغه اورېدونکي (یعقوب ۱: ۲۲).

د دې ټولو شیانو په کولو سره، مونږ به د شاګردانو په توګه ودې کولو ته دوام ورکړو.

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

د عیسی نه پیروي کول زمونږ د تمرین یوه برخه زمونږ په ژوند کې دا ده چې له نورو سره هم مرسته وکړو، تر څو همدا شان وکړي.
لکه چې له نورو سره مرسته کوو، مونږ پخپله هم له ننګوني سره مخامخ کېږو.
په دې وروستیو څو ګامونو ��ې تاسو دعا کوله چې سفر مو د یو بل کس سره پیل کړئ. لکه څنګه چې تاسو دا کسان غوره کړي دي. اوس د څو دقیقو دپاره هغوی ته دعا وکړئ.
که لا هم د یو کس په لټه کې یئ، لاندې ټکي په نظر کې ولرئ:

- چا ته کولای شئ چې بلنه ورکړئ؟
- څنګه کولای شئ چې هغوی ته بلنه ورکړئ؟
- تاسو فکر وکړئ چې چېرته به له هغوی سره وګورئ.
- هغه ژمنې چې دا په کې شامل وي، په پام کې ونیسئ.

د امکان په صورت کې همدا اوس له هغه کس سره د اړیکې په خا طر یو وخت وټاکئ او بیا هغه ته د سفر دپاره بلنه ورکړئ.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

راځئ چې د زبور د دې برخې په لوستلو چې لومړني ګامونه مو له هغه سره پیل کړي وو، پای ته ورسوو. یو بل ته دعا وکړو.
"څښتنه، زه د خپل ملګري ــــــــ دپاره دعا کوم چې د هغه هیله او هوس تل ستا په کلام کې وي. دعا کوم چې په دوامداره توګه ستا په کلام فکر او غور وکړي. دا به د هغې ونې په شان وي چې د ویالي په غاړه کرل شوي وي او ډېرې میوې وکړي. د هغې پاڼې مړاوې نه شي او هرڅه چې سرته رسوي، پایله ولري. دعا کوم چې د دې نړۍ باد هغوی له ځانه سره یونسي او ته تل هغوی وساتې."

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved